إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الخَمْرِ، وَالمَيْتَةِ وَالخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې په مکه کې يې د فتحې په کال ويېل: «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الخَمْرِ، وَالمَيْتَةِ وَالخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ»، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ المَيْتَةِ، فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ؟ فَقَالَ: «لاَ، هُوَ حَرَامٌ»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: «قَاتَلَ اللَّهُ اليَهُودَ إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ، ثُمَّ بَاعُوهُ، فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ». «الله تعالى او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅول حرام کړي دي، نو وويل شو چې: ای د الله رسوله! د مردارې د وازرو په اړه خبر راکړه (چې حکم يې څه دی) ځکه په هغې سره بيړۍ غوړيږي او پوستکو ته پرې رنګ ورکول کيږي (غوړيږي چې د وچېدو مخنيوی يې وکړي) او خلک پرې څراغونه روښانه کوي؟ نو هغه وويل: «نه، هغه حرام دي»، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې وخت کې وفرمايل : «الله تعالى دې يهودان تباه کړي، کله چې الله تعالى (د چارپايانو) وازګې حرامې کړې، نو دوی ويلې کړې، بيا يې خرڅې کړې او پيسې يې وخوړې».

[(صحيح] [متفق عليه دی (بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

جابر رضي الله عنه په مکه کې د فتحې په کال له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويل ئې: الله او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅلاو حرام کړی دی، نو وويل شو چې ای د الله رسوله! آيا مونږ ته روا دي چې د مردارې وازګې خرڅې کړو؟ ځکه په هغې سره کښتۍ غوړيږي، پوستکي پرې رنګيږي او خلک پرې څراغونه روښانه کوي، نو هغه وفرمايل: نه، خرڅول يې حرام دي، بيا په دې وخت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى دې يهود هلاک کړي او خپل لعنت دې پرې راولېږي؛ کله چې الله تعالى پرې د حيواناتو وازرې حرامې کړې دوی ويلې کړې، بيا يې د هغې غوړ خرڅ کړل او پيسې يې وخوړې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4556

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee